ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو
په برخه کې د رياست الوزراء
اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

ګڼه 4

نېټه: شنبه، د ذوالقعدې 21مه، 1444 هـ . ق کال



# سرليکنه



د افغانستان اقتصادي وضعيت په اړه د نړيوال بانک له لوري د ۲۰۲۳ ميلادي کال د مې مياشتې په ۳۰مه نېټه په خپاره شوي راپور کې د افغانستان اقتصادي پرمختګ يادونه شوې ده. په دې راپور کې ويل شوي دي چې د افغانستان اقتصاد د تېرو کلونو په پرتله ښه شوی دی. دوی ليکلي چې د خوراکي توکو او نفتي موادو بيې ټيټې شوې، د بهرنيو اسعارو پر وړاندې د افغانيو ارزښت ثابت پاتې شوی، د صادراتو ترڅنګ د وارداتو او ملي عوايدو کچه هم زياته شوې، د دولتي کارکوونکو معاشونه پر وخت ورکړل شوي، په هېواد کې دننه د خوراکي توکو توليد لوړ شوی او له بانکونو څخه د پيسو په ايستلو کې اسانتياوې رامنځته شوي دي. د راپور په تړاو د اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت له لوري اعلاميه خپره شوه. په اعلاميه کې ددې راپور د ستايلو ترڅنګ پردې ټينګار شوی دی چې که نړيواله ټولنه مثبت تعامل ته مخه او له بې ځايه بنديزونو او مخالفتونو لاس په سر شي؛ نو د افغانستان اقتصادي برخه به نوره هم پرمختګ وکړي او بار به يې د نړيوالې ټولنې له اوږو سپک شي. دا يو واقعيت دی چې اسلامي امارت داسې مهال واک ته ورسېد چې د افغانستان اقتصاد په ټپه ولاړ و، ددې ترڅنګ د هېواد نور سکټورونه له ننګونو سره مخ وو، د پرمختګ هېڅ څرک نه تر سترګو کېده. په څنګ کې يې نړيوالې ټولنې ددې پر ځای چې له افغانستان سره مرسته وکړي، برعکس پر يې بنديزونه پرې ولګول. تر ټولو مهمه د افغانانو هغه شتمني وه چې په امريکا کې کنګل شوه. خو اسلامي امارت په ټول توان سره هڅه وکړه چې د بنديزونو له پاره بديله لاره پيدا کړي او له هغې لارې وکولای شي اقتصادي ثبات رامنځته کړي. په دې برخه کې بريالی شو او دادي اوس په پرله پسې ډول معتبر نړيوال سازمان خپله پر دې اعتراف کوي چې د اسلامي امارت په راتګ سره د افغانستان اقتصاد له نزولي حالته وتلی او صعودي مسير طی کوي. ډېری نړيوال سازمانونه د افغانستان په پرمختګ سترګې پټوي، خو ځينې اوس نه شي کولای پر دې سترګې پټې کړي او حقايق نړۍ ته ښکاره نه کړي. زموږ ددې ادعا ښه ثبوت همدا د نړيوال بانک وروستی راپور دی چې ټول هغه واقعيتونه پکې خپاره شوي دي چې په افغانستان کې يې عملي جامه اغوستې ده. اسلامي امارت په دې پرمختګونو بسنه نه ده کړې او د سږ کال له پاره يې د ترانسپورټ، کرنې، برېښنا، بيارغونې او داسې نورو سکټورونو کې سلګونه پروژې په پام کې نيولې دي چې په عملي کېدو سره به يې له يوه لوري اقتصادي پرمختګ رامنځته شي او له بل لوري به په هېواد کې د بې کارۍ ستونزې ته ځکه پای ورکړل شي، چې په دې پروژو کې به زرګونو کسانو ته د کار زمينه برابره او اقتصادي تحرک به لا پياوړی شي.

## در حضور داشت محترم ملا عبدالغنی برادر آخند قرارداد ارائه خدمات مخابراتی میان وزارت مخابرات و شرکت های مخابراتی خصوصی به امضاء رسید



در حضور داشت محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء و محترم مولوی نجیب الله حقانی وزیر مخابرات و تکنالوژی معلوماتی قرارداد ارائه خدمات مخابراتی به ارزش ٣٦٥ میلیون افغانی در مناطق دور دست میان وزارت مخابرات و شرکت های مخابراتی خصوصی به امضاء رسید. محترم ملا صاحب حین امضای قرارداد گفت، امارت اسلامی خدمت به ملت را وظیفه خود میداند و با تمام توان سعی می نماید تا ضمن فراهم نمودن سایر سهولت های زنده‌گی برای مردم خدمات با کیفیت مخابراتی را نیز پیشکش نماید. محترم ملا صاحب افزود، امارت اسلامی برای سرمایه گذاری زمینه خوبی را فراهم نموده و از تلاش های تمامی تاجران و سرمایه‌گذاران ملی قدردانی می کند که به هدف توسعه اقتصادی کشور سرمایه‌گذاری می کنند. به اساس این قرارداد شرکت های مخابراتی افغان بیسیم و ام تی ان با ایجاد ٣٣ سایت در مناطق دور دست ولایت های کندهار، بدخشان، نورستان، ارزگان، زابل، کنر، ننگرهار و کابل که مردم به خدمات مخابراتی دسترسی ندارند، خدمات ارائه می کنند.

# In Pursuit of Economic Autonomy: The Islamic Emirate of Afghanistan's Emphasis on the Transportation Sector and Infrastructure Development




The transportation sector plays a crucial role as a foundational industry in driving the country's economic growth, and its development holds significant potential. With this in mind, the Islamic Emirate of Afghanistan has prioritized the advancement of the transportation sector. This includes the provision of efficient, secure, and standardized transportation services, strengthening ties with neighboring and regional nations, implementing transparent and accountable systems, fostering opportunities for private investment, enhancing public transportation infrastructure, and initiating fundamental reforms in the administrative structure. Concrete actions have been taken towards the reconstruction of highways, such as the Kabul-Kandahar road, as well as the construction and refurbishment of roads in major cities and beyond the capital. Efforts are also underway to extend roads from provincial centers to remote districts and establish railway connections with neighboring and regional countries.

The implementation of the Afghan-Trans project is particularly significant, as it not only facilitates connectivity between South and Central Asia but also establishes the shortest transit corridor linking China and Europe. The construction of the Afghan-Trans railway will not only provide substantial benefits in terms of export and import trade but will also create opportunities in the mining sector. This will lead to the employment of tens of thousands of individuals and the establishment of various transportation-related facilities, thereby generating further job opportunities. The Islamic Emirate of Afghanistan places special emphasis on expanding trade and strengthening economic relations with neighboring countries and the broader region. Investing in the transportation sector holds great value and has the potential to contribute significantly to the national budget by generating substantial revenue and creating numerous business prospects.

## د افغانستان اسلامي امارت د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت به د 1402 لمريز کال پر مهال د هېواد په لرې پرتو سيمو کې د غوره مخابراتي خدمتونو وړاندې کولو په موخه 450 نوي سايټونه جوړ کړي



ABADI weekly هفته نامه
آبادي اوونیزه

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو
په برخه کې د ریاست الوزراء
اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه



# د خواف- هرات رېل پټلۍ پروژې اقتصادي ارزښت ته ځغلنده کتنه

لیکوال: فضل ولي شیراني

د ترانزیټ له پاره د لویو لارو، سړکونو، د رېل پټلیو غځولو، هوایي کرښو او معیاري هوایي ډګرونو جوړول اړین دي، ځکه ددې ترانزیټي او مواصلاتي زېربناوو له رغونې پرته د یوه هېواد ښېرازي او پرمختیا امکان نه لري. اسلامي امارت پورتنیو ټکو ته په پاملرنې سره غواړي د نورو زېربناوو ترڅنګ له رغول شویو رېل پټلیو ګټه پورته کړي او نوې هغه جوړې کړي. دوی پر دې باور دي چې افغانستان په وچه کې ایسار هېواد دی او له ځمکنیو لارو او رېل پټلۍ پرته نه شي کولای له ګاونډیو او په ټوله کې له نړۍ سره خپلې سوداګریزې اړیکې ټینګې او راکړه ورکړه ترسره کړي. د رېل پټلۍ له لارې به افغانستان لومړی له ګاونډیو او بیا د نړۍ له نورو هېوادونو سره ونښلول شي. په افغانستان کې د رېل پټلۍ جوړول څه نوې خبره نه ده، بلکې په ۱۹۲۰ میلادي کال د امان الله خان د واکمنۍ پرمهال رېل پټلۍ جوړه شوې، خو یوازې یوه نمونه وه، نور داسې څه نه و چې له هغې دې یا له نړۍ سره د افغانستان د نښلولو له پاره ګټه پورته شي او یا دې هم د ترانزیټ په برخه کې کارنده واقع شي. د رېل دغه کوچنۍ کرښه اووه کیلومتره وه او د کابل له دهمزنګ ماشینخانې څخه بیا د پغمان تر نوې ښارګوټي پورې غځېدلې وه. په تېرو څو لسیزو کې په دې برخه کې هغه ډول کار چې باید ترسره شوی وی نه دی ترسره شوی. اسلامي امارت په دې برخه کې ځینې پلانونه او طرحې چمتو کړې دي. هڅه یې داده چې افغانستان د رېل پټلۍ له لارې لومړی له سیمې او بیا نړۍ سره ونښلوي. ددې طرحو څخه یوه طرحه د مزارشریف- هرات- کندهار سپین بولدک رېل پټلۍ ده. که دا پروژه بشپړه شي نو له شک پرته چې افغانستان به د اسیا لویې وچې د وصل په نقطه بدل شي. په ټوله کې خو رېل پټلۍ لکه څنګه چې اشاره ورته وشوه، د ترانزیټ او سوداګرۍ په برخه کې مهم رول لري، خو مور په دې لیکنه کې یوازې د خواف- هرات ترمنځ رېل پټلۍ په اړه غږېږو او د هغې اقتصادي ارزښت ته مو نغوته کړې ده.

## د خواف- هرات ترمنځ د رېل پټلۍ پروژه

د خواف – هرات د اورګاډي پټلۍ پروژه د پنځو هېوادونو د رېل پټلۍ دهلیز (FNRC) برخه ده. دغه رېل پټلۍ به د ایران، افغانستان، تاجکستان، قرغزستان او چین څخه تېرېږي. ټول اوږدوالی یې دوه زره کیلومتره دی. دا رېل پټلۍ له هرات څخه



(Routes of the FNRC and other connectivity projects running through Afghanistan)

په تیرېدو د افغان-تاجک پولې ته رسېږي او له تاجکستان څخه تر تیرېدو وروسته قرغزستان ته او هلته به د چین-قرغزستان-ازبېکستان (CKU) رېل پټلۍ سره ونښلي. د روان میلادي کال می میاشتې په نهمه د لومړي ځل له پاره په ازمایښتي ډول د ایران څخه هرات ته د خواف-هرات رېل پټلۍ له لارې رېل راغی چې پکې ۱۷ واګونونه و او ۶۵۵ ټنه د رېل پټلۍ وسایل پکې را انتقال شول. د خواف- هرات رېل پټلۍ ټول اوږدوالی ۲۲۵ کیلومتره دی چې له دې جملې یې ۱۴۰ کیلومتره په افغانستان او پاتې ۸۵ کیلومتره یې په ایران کې غځېدلې ده.

## د پروژې اقتصادي ارزښت

لکه څرنګـه چې ټولو هېوادوالو ته جوته او معلومه ده افغانستان د نړۍ یو له هغو هېوادونو څخه دی چې په وچه کې ایسار او سمندر ته لار نه لري. په نړۍ په ځانګړې ډول اسیا کې هغه هېوادونه چې په وچه کې پراته دي، تر ټولو غوره، خوندي او ارزانه ترانسپورټ د رېل ګاډي ترانسپورټ دی. بله دا چې د سوداګرۍ د چټکې ودې لپاره کولای شو د رېل پټلۍ له لارې د سـیمې او نړۍ ګڼو سـوداګریزو مارکېټونو ته ځان ورسـوو او پرته له دې موږ نه شو کولای د سیمه ییز اتصال تر عنوان لاندې د سیمې او نړۍ له سترو اقتصادي او سوداګریزو بازارنو سره وصل شـو؛ نو همدې اصل ته په کتو د افغانستان اسـلامي امارت د نورو سـکټورونو ترڅنګ د رېل پټلۍ برخې ته پوره پام ور اړولی دی او په دې برخه کـې یې ځینې پروژې پلـې او د ځینو له پاره یې پلانونه چمتو کـړې دي. کله چې د رېل پټلۍ له لارې افغانستان د سیمې او بیا نړۍ سره ونښلول شي، نو بیا دا ډاډ شته چې د افغانستان سوداګرۍ به پراختیا وکړي او ترڅنـګ به یې اقتصادي وده رامنځته شي. ددې پروژو له ډلې یوه هم د خواف- هرات د رېل پټلۍ پروژه ده چې چارې یې بشپړې شوې دي.له دې پروژې څخه د افغانستان موخه داده چې د امریکا او لوېدیځ له لوري له لګول شویو بندیزونو سره سره د خپلې سوداګرۍ او اقتصادي ودې له پاره بدیلې لارې چارې ولټوي. د خواف- هرات رېل پټلۍ بله ګټه داده چې افغانستان به له دې لارې د سـیمې د یـو شـمېر هېوادونـو له ترانسپورتي دهلیزونو سره ونښلي او وبه کولای شي د بندیزونو باوجود خپله سوداګري پراخه کړي. بله دا چې ددې رېل پټلۍ له لارې به افغان سوداګر په اسانۍ خپل سـوداګریز توکي د منځنۍ اسیا هېوادونو له لارې لوېرې چین او هند او بیا نړیوالو مارکېټونو ته په ټیټه بیه ورسوي. دغه راز یاده رېل پټلۍ سره له دې چې سوداګریز توکي په اسانۍ لېږدوي، د خلکو له پاره د کار زمینه هم برابروي



چې ورسره به د خلکو اقتصادي وضعیت ښـه والی مومي. د خواف- هــرات د رېل پټلۍ بله ګټه داده چې هېواد به په یوه اقتصادي څلور لارې بدل کړي او لـه بل لوري به د لویــو لارو د ویجاړېدو مخه هم نیسي. د خواف- هرات رېل پټلۍ یوه مهمه پروژه ده او په بشپړېدو به یې افغانستان د سوداګرۍ په برخه کې پوره پرمختګ وکړي. له دې سره به له یوه لوري خلکو ته د کار زمینه برابره شي او له بل لوري به ملي عواید لوړ او اقتصادي وده به رامنځته شي.

## پایله

افغانستان د جغرافیایي موقعیت له امله سمندر ته مسـتقیمه لاره نه لـري او د سـیمې او نړۍ له هېوادونو سره ترل ورته ډېر ارزښـت لري. همدې اصل ته په کتو د اسـلامي امارت مشرتابه پټیپلي چې د ځمکې له لارې د سـیمې او نړۍ هېوادونو سره خپلې سـوداګریزې اړیکـې پراخې کړي. د ځمکنې ترانسپورټ په برخه کې له سمندري لارې راوروســته ډاډمنه او ارزانه لار رېــل پټلۍ ده. په همدې موخه اسـلامي امارت له ګاونډیو هېوادونو سره د خپلـې راکړې ورکړې له پاره د رېل پټلۍ د جوړولـو په برخه کې هلې ځلـې پیل کړې دي. کومې رېل پټلۍ چې پخوا جوړې شوې وې او بیا د ځینو ستونزو له امله ترې ګټه نه پورته کېده او یا یې چارې نیمګړې پاتې وې، هغه ټولې یې تقریباً بېرته فعالې کړې دي. ددې خبرې ښـه ثبوت د حیرتان- مزارشریف ترمنځ او د اقینې رېل پټلۍ دي چې هــره ورځ پرې زرګونه ټنه توکي لېږدول کېږي. په دې وروستیو کې د خواف- هرات رېل پټلۍ وه چې له ایران څخه د افغانستان د هرات تر ولایت پورې غځېدلې ده. ددې رېل پټلۍ چارې تقریباً بشپړې دي او ګټې اخیستنې ته چمتو ده. د یادې رېل پټلۍ تر څنګ که چېرې شــته نورې رېل پټلــۍ او د راتلونکې له پاره پلان شــوې رېل پټلۍ جوړې شي؛ نو له شــک پرته چې افغانســتان به د ســیمې د ترانزیټ په مرکز بدل او په اقتصاد کې به یې ستر بدلون رامنځته شي.





# د لویو لارو د بیارغونې اړتیا

لیکوال: امان الله حنیفي



## سریزه

ترانسپورټ او ترانزیټ د یو هېواد په اقتصادي وده کې خپل ځانګړی ارزښت لري او په دغه برخه کې پانګونه یې د سیمه‌ییزې او نړیوالې سوداګرۍ فرصتونه زیاتوي. په نړیواله کچه ډېری هېوادونه د مسافرو او سوداګریز ترانسپورټ لپاره له سمندري، هوایي، ځمکني او ریل پټلۍ شبکو څخه استفاده کوي؛ خو افغانستان چې بهر ته مستقیم لاسرسی نــه لري، یوازې له هوایــي، ځمکني او ریل پټلۍ هغو څخه یې کار اخلي. دا چې له څلورو لسیزو جګړو وروسته په افغانستان کې په لومړي ځل یو پیاوړی او متمرکز اسلامي نظام حاکم شوی او د هېواد په ګوټ ګوټ کې ډاډمن امنیت ټینګ دی، نو اسلامي امارت په اقتصادي برخه کې د ځان بسیاینې لپاره د نورو هڅو ترڅنګ ترانسپورټي او ترانزیټي پرمختګ ته هم ډېر پام اړولی دی. موږ په همدې مقاله کې د ځمکني ترانسپورټ او په ځانګړي ډول د سړکونو پر خرابوالي، د هغه له امله پر رامنځته شوو ستونزو او دا چې د هغوی بیارغونې او جوړولو ته څومره اړتیا ده؛ کتنه کړې.

## د لویو لارو اوسنی وضعیت

افغانستان د هوایي او ریل پټلۍ ترانسپورټي شبکو په پرتله له ځمکني ترانسپورټ څخه ډېره استفاده کوي، چې په دې برخه کې یې ټول تمرکز او تکیه پر سړکونو ده. سره له دې چې د سړکونو جوړولو اهمیت د افغانستان په اقتصادي وده او پراختیا کې خورا ارزښتناک دی، خو څومره چې لازمه ده، تر اوسه هومره پام نه دی ورته شوی. د نړیوالو راپورونو له مخې، د افغانستان د لویو لارو ٥٤ سلنه د نه پاملرنې له کبله ویجاړ شوي او بیارغونه غواړي او که جدي پاملرنه او بیارغونه یې ونشي، پاتې برخې یې هم له منځه ځي. طبیعي پېښې، له اندازې زیات بار، د باروړونکو موټرو ګرندیتوب، زیات تګ راتګ او د لارو په جوړولو کې د لږ کیفیت لرونکو موادو کارول د لویو لارو د ویجاړېدو اصلي لاملونه دي. په افغانستان کې نه یوازې دا چې جوړ شوي سړکونه بیارغونې ته جدي اړتیا لري؛ بلکې ډېری ولایتونو او





لري پرتو ولسوالیو ته هېڅ پوخ سړکونه نه دي جوړ شوي. د یادو ولایتونو او لري پرتو ولسوالیو خلک ډېر په سختۍ سره د خامو او لوړو ژورو لارو په واسطه د خپلو ضرورتونو رفعه کولو لپاره بازارونو ته ځانونه رسوي. دوی وایي د سړکونو نه جوړېدو له امله ورته د ژوند حتی لومړني خدمات هم نه دي رسېدلي.
پردې سربېره، په لویو لارو عام هېوادوال او د باروړونکو موټرو څښتنان له ډېر ستونزو سره مخ دي او شکایت کوي چې د لارې خرابېدو یې پر کاروبار بد اغېز کړی دی. دوی د کابل – کندهار او کابل – هرات لویې لارې د بېلګې په ډول یادوي او وایي چې پر دې لارو تګ یې په شپږ شپږ وخت اخلي.



## د لویو لارو او سړکونو د بیارغونې او جوړولو اړتیا

افغانستان د خپل جیوپولټیک جغرافیوي موقعیت له مخې د سیمې هېوادونو ترمنځ د نښلوونکي پل حیثیت لري. نو که چېرې د ځمکنۍ ترانسپورټ په برخه کې چې ټوله تکیه یې پر سړک ده، د یو منظم سیستم پر بنسټ پانګونه وشي، په کم وخت کې به د سیمه ییز اتصال په څلور لارې بدل شي او په اقتصادي وده کې به مهم رول ولوبوي. دا چې ځمکنۍ ترانسپورټ عموماً د سړکونو له لارې ترسره کېږي، افغانستان هم د زرهاوو کیلومترو په اوږدوالي سیمه ییز، ولایتي او محلي سړکونه لري چې کولی شي د هېواد بېلابېلې سیمې له یو بل سره ونښلوي. که د سړکونو جوړولو او بیارغونې له لارې د هېواد ټولې سیمې له یو او بل سره ونښلول شي، پرته له شکه چې په وخت او ښه کیفیت سره به په لرې پرتو سیمو کې مېشتو هېوادوالو ته د ژوند لومړني خدمات ورسېږي. په لرې پرتو سیمو کې به ښووونیز فعالیتونه پیل شي، روغتیایي مرکزونه به جوړ شي، سوداګري به وده وکړي، سیاحت به ورسره وغوړېږي او په مجموع کې به د ټولو هېوادوالو د ژوند کچه لوړه شي. د سړکونو او لویو لارو په جوړولو او بیارغونې سره به ټولې لرې پرتې سیمې له مرکز سره ونښلول شي. هېڅوک له دې انکار نشي کولی چې د یو هېواد ټولنیز، اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او سوداګریز پرمختګ کې د معیاري سړکونو جوړښت مهم رول لري. په افغانستان کې تر ټولو ډېر لېږد رالېږد د سړکونو پر مټ ترسره کېږي، نو پر همدې اساس د سړکونو جوړول او بیارغونه د یو هېواد په اقتصاد، کرنه، سیاسي وضعیت، امنیت او پرمختګ کې ستره ونډه لري او په دې سره د یوې سیمې سوداګریز او کرنیز توکي بلې سیمې ته په ښه او اسانه ډول لېږدول کېږي.







## د لویو لارو او سړکونو پر جوړولو او بیارغونه عملاً کار پیل شوی

سره له دې چې پر اسلامي امارت د نړیوالو لخوا په ډېرو برخو کې بندیزونه لګېدلي؛ خو د اسلامي امارت رهبرۍ او مسوولینو د دې بندیزونو او ستونزو باوجود هم د هېواد بیارغونې ته کار ویلی او په دغه برخه کې شپه او ورځ هڅې کوي. د ترانسپورټ سکټور او په ځانګړې ډول د لویو لارو او سړکونو جوړول او بیارغونه چې اقتصادي خودکفایی ته د رسېدو لپاره یو مهم فکتور دی، اسلامي امارت ورته جدي پاملرنه کړې او عملاً یې د لویو لارو لکه: کابل – کندهار لویې لارې د بیارغونې کارونه پیل کړي دي. دغه لویه لار د هېواد جنوب له مرکز، شمال او شمال شرق سره نښلوي چې اوس یې عملاً کارونه پیل شوي او په نږدې راتلونکي کې به یې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. اسلامي امارت د کابل – کندهار پر لویې لارې سربېره په بېلابېلو ولایتونو کې لسګونو لرې پرتو ولسوالیو ته هم د سړک جوړولو کارونه پیل کړي، په ټول هېواد کې د ویجاړو شوو سړکونو د سروې او ډیزاین چارې روانې دي چې یو پر بل پسې به ورغول شي.